مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۴/۰۹/۰۳

# خیبر ته سرود!

راجرګه کړه پښتانه هسکه خیبره!
چې فلک سره بیا ووهي ډغره

چې په قهر و قیام ږنګې کړي دا کربښې
په تدبیر یې تقدیر وشړه له دره

لکه شات او شیدې ګډ کړه سره دواړه
ورنه هېر کړه، چې د لر دي که د بره

په تیاره کې یې لاس خپل ګریوان نیولی
ته رڼا ورلره راوله له لمره

لر د خپل زړګي پیلوځی ورته بل کړه
ګوندې لاره به پیدا کړي تر سحره

چې راویښ شي د پېړۍ، پېړۍ له خوبه
را ګوزار یې کړه د هسک شمشاد له سره

اباسینه! د خوشال لمن درنیسه!
وطن خلاص کړه د خوني مغول له شره

د ملنګ بابا اروا کړه را حضوره
احمدشاه ته چیغه وکړه له سپین‌غره

«هري سنګهـ» په جمرود بیا وهي سرونه
سر راپورته کړه غازي وزیر اکبره

د لوی ولس د برخلیک کتیبه لیک کړه!
راجرګه کړه پښتانه هسکه خیبره!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ